لومړی پړاو - څلورمه ګڼه

# د عامې روغتیا وزارت اوونیزه!

## (پرلیـــکه خپـرونه)



- د علمي کمپلکس فارما د زرقي سفتېریاکزون د تولید خط پرانیسته کې د عامې روغتیا وزیر ګډون
- د هېواد له خصوصي روغتیایي سکتور څخه د نظارتونو ترسره کېدل
- د خوست ولایتي روغتون سره د ۱۰۶ زره ډالرو په ارزښت د اړینو طبي وسایلو مرسته
- د ناروغانو د خوندیتوب او پاملرنې په اړه د عامه پوهاوي غونډې ترسره کېدل
- د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال په مشرۍ د طبي متخصصینو شورا ناسته

د ویاندویۍ اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

۱۴۴۷-۰۳-۲۵







## د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام ریاست اړوند پر لیکه ډیټابیس سیسټم جوړ او اړوند شریکانو ته د یاد سیسټم د تشریح کولو درې ورځنۍ ورکشاپ پای ته ورسېد!

د عامې روغتیا وزارت د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام ریاست اړوند پر لیکه ډیټابیس سیسټم جوړ او اړوند شریکانو ته د یو درې ورځني ورکشاپ ترڅ کې ورپېژندل شو، چې له مخې به یې په چارو کې روڼتیا، مرستو کې اغېزمنه همغږي او لازمې اسانتیاوې رامنځته شي. همداراز، د یاد سیسټم په جوړېدو او تطبیق سره به د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام ریاست اړوند معلوماتو ته د چټک، شفاف او دقیق لاسرسي زمینه برابره شي او هم به د همکارو ادارو ترمنځ د لا زیاتې او ښې همغږۍ لامل وګرځي. د یادونې وړ ده، چې په لومړي ځل د نړیوالو مرستو د انسجام او ښې همغږۍ په موخه یو منظم ډیجیټل سیسټم را منځته شو، چې د پروژو په ښه مدیریت، د مرستو په دقیقه څارنه او ارزونه او د تکراري فعالیتونو په مخنیوي کې به اغېزمن رول ادا کړي.

## یک سیستم دیتابیس آنلاین از طریق ریاست روابط و هماهنگی کمک های وزارت صحت‌عامه، ایجاد و به خاطر تشریح آن به شرکایی صحی این وزارت ورکشاپ آموزشی سه روزه ای که دایر شده بود امروز خاتمه یافت.

این سیستم باعث شفافیت در امور، هماهنگی مؤثر در کمک‌ها و تسهیلات لازم خواهد شد. همچنان، با ایجاد و اجرای این سیستم، زمینه دسترسی سریع، شفاف و دقیق به اطلاعات ریاست هماهنگی و انسجام کمک‌های بین‌المللی فراهم شده و این سیستم باعث افزایش هماهنگی بهتر، بین نهادهای همکار خواهد بود. قابل یادآوری است، که برای نخستین بار، به خاطر انسجام و هماهنگی بهتر کمک‌های بین‌المللی، یک سیستم دیجیتال منظم ایجاد شده است که در مدیریت بهتر پروژه‌ها، نظارت و ارزیابی دقیق کمک‌ها و جلوگیری از فعالیت‌های تکراری نقش مؤثری ایفا خواهد کرد.

## The Directorate of International Relations, Aid Coordination, and Integration Develops an Online Database System and Holds a Three-Day Workshop for Relevant Partners.

An online database system was developed and introduced to relevant stakeholders during a three-day workshop by the Ministry of Public Health's Directorate of International Relations, Aid Coordination, and Integration. The system is designed to ensure transparency in operations, facilitate effective coordination of aid, and provide necessary support. Furthermore, the creation and implementation of this system will provide fast, transparent, and accurate access to information related to the Directorate and will promote improved coordination among partner agencies. It is worth noting that, for the first time, a systematic digital platform has been established to manage international aid. This system will play a vital role in enhancing project management, enabling accurate monitoring and evaluation of aid, and preventing duplication of activities.

## د عامې روغتيا وزارت د طبي شورا لوی رئيس، ډاکټر فقير محمد زيار په مشرۍ د يوې باصلاحيته کمېټې له لوري د هېواد له خصوصي روغتيايي مرکزونو څخه د نظارت لړۍ پيل شوې ده.

د ياد نظارت موخه د هېواد په خصوصي روغتيايي مرکزونو کې د بهرنيو او داخلي ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتيايي کارکوونکو شتون، د فعاليت تنظيم، تحصيلي اسنادو، جوازونو او د اقامت سندونو څېړل دي، چې د سرغړونو په صورت کې به قانوني اقدامات تر سره کېږي؛ د نظارتونو ياده لړۍ، چې څه موده وړاندې پيل شوې، پر دوام يې له بهزاد، انصار، امير، آيينه صحت او خرمي روغتونونو څخه نظارت ترسره شو او اړوندو مسؤلينو ته د باکيفيته تخصصي او معياري خدماتو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې. د يادونې وړ ده، چې دغه نظارتي بهير به ډېر ژر د هېواد په نورو ولايتونو کې هم د روغتيايي قوانيو د تطبيق په موخه عملي شي او د مسؤلينو له لوري به له سرغړونکو سره قانوني چلند ترسره کېږي.

## تحت رهبری داکتر فقير محمد زيار رئيس عمومی شورای طبی وزارت صحت‌عامه، یک کمیته با صلاحیت روند نظارت از مراکز صحی خصوصی کشور آغاز شده است.

هدف از این نظارت، بررسی حضور داکتران داخلی و خارجی، نرس ها و سایر کارمندان صحی در مراکز صحی خصوصی کشور، تنظیم فعالیت‌ها، اسناد تحصیلی، جوازها و اسناد اقامت می‌باشد که در صورت بروز تخلف، اقدامات قانونی و لازم اتخاذ خواهد شد. در چارچوب این روند که از مدتی قبل آغاز شده است، از شفاخانه‌های، بهزاد، انصار، امیر، آیینه صحت و شفاخانه خرمی نظارت صورت گرفت و به مسوولان مربوطه آنان در راستای ارائه خدمات تخصصی، معیاری و با کیفیت، هدایات لازم داده شد. قابل ذکر است، که این روند نظارتی پس از کابل در دیگر ولایات کشور نیز به هدف تطبیق قوانین صحی ادامه خواهد یافت و با متخلفین برخورد قانونی صورت خواهد گرفت.

## An Authorized Committee, Led by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Chief of the Medical Council at the Ministry of Public Health, Inspected Private Health Centers Across the Country.

The purpose of this monitoring is to assess the presence, activities, educational credentials, licenses, and residence documents of both foreign and domestic doctors, nurses, and other health workers in private health centers across the country. Legal action will be taken in case of any violations. As part of this ongoing monitoring process, inspections have already been carried out at Behzad Hospital, Ansar Curative Hospital, Amir Hospital, Ayena Sehat Hospital, and Khorami Curative Hospital, and the relevant officials were provided with necessary recommendations to ensure the delivery of quality, specialized, and standardized services. This process will continue in other provinces after Kabul to enforce health regulations, and authorities will take legal action against any violations.







## یک برنامه آموزشی پنج روزه برای مسوولان لابرتوار های حوزه وی کشور دایر گردید.

این برنامه آموزشی تخنیکی پی‌سی‌آر و الایزا (ظرفیت‌سازی تخنیکی) پنج روزه، با حمایت تخنیکی آمریت لابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه، برای لابراتوارهای پنج‌گانه حوزوی کشور که شامل ولایت های (هرات، بلخ، ننگرهار، قندهار و پکتیا) می شوند از تاریخ ۱۶ ماه سنبله سال روان آغاز و امروز پنج شنبه ۲۰ سنبله ۱۴۰۴ هـ.ش، که مدت پنج روز، ادامه داشت، در چوکات پروژه گلوبل فند، بخش لابراتوارها، در آمریت لابراتوارهای مرکزی با هماهنگی ریاست روابط بین‌الملل ( واحد تقویت سیستم صحی و جلب منابع ) دایر گردید. در این برنامه داکتر مسعود دلسوز، آمر لابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه، در مورد اهمیت تشخیص و تداوی امراض و نقش این ظرفیت‌ها برای اشتراک کننده گان سخنرانی تخنیکی و تشویقی نموده و از آنان خواست تا از فرصت به دست آمده استفاده موثر نمایند. در این برنامه، ده تن از کارمندان تخنیکی لابراتوارهای حوزوی ولایات متذکره اشتراک داشتند، که این برنامه شامل بخش‌های تیوری و عملی بود و در شعبات مجهز پی‌سی‌آر و سیرولوژی با موفقیت کامل به پایان رسید. هدف اساسی این نوع برنامه ها، ارتقاء ظرفیت مسلکی لابراتوارهای حوزوی کشور، آشنایی تخنیکی کارمندان با تکنالوژی‌های جدید و تقویت توانایی آنها در تطبیق و ارائه خدمات معیاری تشخیصیه صحت‌عامه در مراکز مربوطه می‌باشد. قابل یادآوری است که این برنامه آموزشی با اجرای موفقانه تست‌های قبلی و بعدی به شکل ( نظری و عملی ) به اتمام رسید.

## دفاع آثار تحقیقی استادان شفاخانه های تخصصی ولایات به شکل آنلاین آغاز گردید.



به اساس قانون کادرعلمي تخصصی طبی، استادانی که کاندید رتب علمی اند، باید آثار تحقیقی خود را با حضور هیأت منتخب شورای متخصصین طبی وزارت صحت‌عامه دفاع نمایند تا از حقوق مادی و معنوی آن مستفید گردند. بناءً به خاطر سهولت به استادان شفاخانه های تخصصی ولایات، برای اولین بار دفاع آثار تحقیقی استادان محترم شفاخانه تخصصی حوزوی کندز از طریق آنلاین با استفاده از برنامه Zoom با حضور استادانی که عضویت شورای متخصصین طبی را دارند، در شفاخانه صحت طفل اندراگاندی توسط آمریت ژورنال و تحقیق ریاست انسجام اموراکادمیک ریاست عمومی اکمال تخصص تنظیم و آغاز گردید. قابل ذکر است که این روند به صورت دوامدار برای سایر مراکز آموزشی تخصصی طبی نیز ادامه خواهد داشت.



## د عامې روغتيا وزارت د رواني روغتيا برخې مسؤلينو کونړ ولايت کې د وروستۍ زلزلې له امله زيانمنو شويو ته په ياده برخه کې هر اړخيز خدمات وړاندې کړي دي.

د دغو خدماتو په وړاندې کولو سره د رواني روغتيا برخې مسؤلين توانېدلي، چې د وروستۍ زلزلې اغېزې راکمې او د خلکو په ذهني ارامتيا کې غوره بدلون راولي؛ ترڅو په ټولنې کې رواني روغتيا خوندي، د اغېزمنو خلکو د روحي فشار کچه راښکته او بېرته خپل عادي ژوند ته وګرځي. همداراز، د رواني روغتيا برخې مسؤلينو د خپلو دوامداره فعاليتونو په لړ کې اغېزمنو خلکو ته د ټولنيز او انفرادي ملاتړ، مشورو ورکولو او عامه پوهاوي برخو کې خدمات وړاندې کړي دي؛ څو د خلکو روغتيا خوندي او له رواني ستونزو سره مخ نه شي.

## The Ministry of Public Health's Mental Health Department Delivers Comprehensive Services to Victims of the Recent Earthquake in Kunar Province.

The services helped mitigate the impact of the recent earthquake and promote positive changes in people's mental well-being, aiming to protect community mental health, reduce stress among those affected, and help them return to their normal lives. Additionally, mental health officials have offered services to affected individuals in the areas of social and individual support, counseling, and public awareness as part of their ongoing efforts to safeguard people's well-being and prevent mental health problems.




## د هلمند عامې روغتيا رياست سره د ۱۷۱٦٥۰۰ افغانيو په ارزښت د ۱۰ پايو انکيوبېټرونو (incubators) مرسته وشوه.

ياده مرسته د فاطمه خيريه بنسټ له لوري شوې، چې د هغو نويو زېږېدلو ماشومانو د روغتيا خونديتوب لپاره به ورڅخه لازمه ګټه اخيستل کېږي، چې له کمزورۍ سره مخ وي او يا تر وخت مخکې زېږېدلي وي؛ ترڅو د نويو زېږېدلو ماشومانو د مړينې کچه را کمه او د هغوی د ژوند ژغورنې فرصتونه ډېر شي.

د هلمند د عامې روغتيا رئيس، مولوي فضلي احمد شفيع الله د يادې مرستې له امله د فاطمه خيريه بنسټ له مسؤلينو څخه مننه وکړه او ويې ويل، چې دغه انکيوبېټرونه به ډېر ژر اړوندو روغتيايي مرکزونو ته ووېشل شي.







### د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی ریاست اړوند ویاندویی، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست له لوري د دې ریاست کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه یو ورځنی ورکشاپ تر سره شو.

یاد ورکشاپ چې د ویاندویی، اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس، ډاکټر شرافت زمان امرخېل له لوري تر سره شو، په ترڅ کې یې ګډونوالو ته د اداري چارو د ښه ترسراوي، د برنامو غوره مدیریت، راپور لیکنې ، د نشراتي چارو ښه والي ، ښې همغږۍ او د غوره وینا والۍ مهارتونو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل شول. د ویاندویی، اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس، له ګډونوالو وغوښتل، چې د یاد روزنیز ورکشاپ په ترڅ کې زده کړې موضوعات دې په اړوندو کاري ساحو کې پلي کړي؛ تر څو د فعالیتونو کیفیت او مؤثریت نور هم لوړ شي. ګډونوالو د یاد ورکشاپ له ترسره کېدو خوښي وښوده او دا یې د مسلکي ظرفیت لوړونې لپاره یو اغېزمن او مهم ګام وباله.

### ریاست اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی مربوط به ریاست عمومی دفتر مقام وزارت صحت‌عامه، به خاطر ارتقاء ظرفیت کارمندان این ریاست، یک ورکشاپ آموزشی یک‌روزه را برگزار کرد.

این ورکشاپ که توسط داکتر شرافت زمان امرخیل رئیس اطلاعات، ارتباطات عامه و سخنگوی برگزار گردید، معلومات همه جانبه در مورد درک بهتر امور اداری، مدیریت بهتر برنامه ها، گزارش نویسی، نشرات بهتر، هماهنگی بهتر و مهارت های بهتر سخنرانی به اشتراک کننده گان ارائه گردید. رئیس اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی از اشتراک‌کننده‌گان خواست، تا موضوعات آموخته‌شده در این ورکشاپ آموزشی را در ساحات کاری مربوطه عملی نمایند، تا کیفیت و مؤثریت فعالیت‌ها بیشتر ارتقاء یابد. اشتراک‌کننده گان از برگزاری این ورکشاپ ابراز خرسندی نموده و آن را یک گام مؤثر و مهم برای ارتقاء ظرفیت مسلکی خود دانستند.

### پکتیا او هرات ولایتونو کې د خوراکي توکو له یو شمېر پلورنځیو څخه نظارت تر سره شو.



دغه نظارت چې د یادو ولایتونو د عامې روغتیا مسؤلینو له لوري تر سره شو، پایله کې ۸۶۰ کیلو ګرامه له نېټې تېر خوراکي مواد د هرات ولایت په لومړۍ او دريمه ناحیه کې او ۴۹۰ کېلو ګرامه له نېټې تېر خوراکي مواد د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز ښار کې راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکـزي ګدامونـو ته ولېږدول شول.

همدارانز د دې نظارت په ترڅ کې اړوندو مسؤلینو ته د کیفیت ښه والي او قوانینو د مراعت په موخه لازمي سپارښتنې وشوې، چې د سرغړونې په صورت کې به له قانوني اقداماتو سره مخ شي.



## د هېواد له خصوصي روغتیایي مرکزونو څخه د نظارت پیل شوې لړۍ دوام لري!

د نظارت یاده لړۍ د عامې روغتیا وزارت د طبي شورا لوی رئیس، ډاکټر فقیر محمد زیار په مشرۍ د یوې باصلاحیته کمېټې له لوري پیل شوې ده، چې موخه یې د هېواد په خصوصي روغتیایي مرکزونو کې د بهرنیو او داخلي ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتیایي کارکوونکو شتون، د فعالیت تنظیم، تحصیلي اسنادو، جوازونو او د اقامت سندونو څېړل دي، چې د سرغړونو په صورت کې به قانوني اقدامات تر سره کېږي. د نظارتونو یاده لړۍ چې څه موده وړاندې پیل شوې ده، پر دوام یې له امان یشفین، جلدي وزیبایي روز، موسی وردګ، اروپا اسیا بین المللي، عقلی و عصبي اکسون او همکار جراحي روغتونونو څخه نظارت ترسره شو او اړوندو مسؤلینو ته د باکیفیته تخصصي او معیاري خدماتو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د هېواد په کچه د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ او ناروغانو ته لازم روغتیایي خدمات وړاندې شي. د یادونې وړ ده، چې دغه نظارتي بهیر به ډېر ژر د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د روغتیایي قوانیو د تطبیق په موخه عملي شي او د مسؤلینو له لوري به له سرغړونکو سره قانوني چلند ترسره کېږي؛ څو د خصوصي روغتیایي مرکزونو فعالیتونه د عامې روغتیا وزارت له پالیسۍ سره سم ترسره او د خلکو روغتیا خوندي شي.

## The Process of Monitoring Private Health Centers Across the Country Continues!

An authorized committee, led by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Chief of the Medical Council at the Ministry of Public Health, has initiated a nationwide monitoring process. The aim is to assess the presence of both foreign and domestic doctors, nurses, and other medical staff in private health centers, oversee their professional activities, and verify academic credentials, licenses, and residence permits. Legal action will be taken in cases of violations. As part of this ongoing process, inspections have already been carried out at Aman Yashfeen Hospital, Rose Dermatology and Cosmetic Hospital, Mussa Wardak Hospital, Europe International Specialized Hospital, as well as Axon and Hamkar Surgical Hospitals. During these inspections, necessary recommendations were provided to the relevant officials to ensure the delivery of high-quality, specialized, and standardized services. These measures aim to improve the overall quality of healthcare at the national level and ensure that patients receive the necessary medical care. It is worth noting that this monitoring process will soon be expanded to other provinces, with the goal of enforcing health regulations. Authorities will take legal action against violators to ensure that private health centers operate in line with the Ministry of Public Health's policies and safeguard public health.




## د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د علمي کمپلکس فارما د زرقي سيفالوسپورين (سفټرياکزون ) د توليد خط پرانسته کې ګډون وکړ.

په دې پرانسته کې چې د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، امارتي چارواکو، د خصوصي سکتور استازو او ګڼو اکاډميکو شخصيتونو ګډون درلود ښاغلي وزير د خپلې وينا په ترڅ کې دا پرانسته يوه ارزښتمنه او مهمه پرانسته وبلله او د هيواد دننه د با کيفيته درملو په توليد يې ټينګار وکړ. ښاغلي وزير د خپلې وينا په ترڅ کې وويل هڅه يې د هيواد دننه پانګه والو ته د درملو د توليد برخه کې د زمينې مساعدول دي تر څو په کور دننه د درملو برخه کې خودکفاء شو ، هغه همدارنګه زياته کړه کاري لمړيتوب يې د درملو د کيفيت ښه والی او د داخلي درملو ملاتړ دی. د علمي کمپلکس درملو فابريکي مؤسس ډاکټر ميرويس علمي وويل: زمونږ موخه يواځې توليد نه دی، بلکې د نړيوالو معيارونو سره سم کيفيت، د خلکو باور او د روغتيايي سکتور پياوړتيا ده. د يادونې وړ ده په ټولييزه توګه د علمي کمپلکس فارما په توليدي فابريکه کې نږدې ۲۵ ميليونه ډالر پانګونه شوې ده، چې يوازې د زرقي سيفالوسپورين ځانګړې برخه کې يې شاوخوا ۳ ميليونه ډالره پانګونه وشوه. په پرانسته کې د شته مسؤولينو په وينا دا پروژه به د خلکو لپاره باکيفيته او ارزانه درمل برابر کړي، د وارداتو اړتيا به کمه او کورني توليدات به پياوړي کړي چې دا د هيواد د ځان بسياينې ملي توليد او د روغتيايي سکتور د ودې لپاره يو مهم ګام دی.

## Mawlawi Noor Jalal Jalali, the Minister of Public Health of the IEA, participated in the opening ceremony of Elmy Complex Pharma's production line for injectable Cephalosporin (Ceftriaxone).

The inauguration was attended by the Minister of Public Health, Emirati officials, representatives from the private sector, and numerous academic figures. In his address, His Excellency Jalali emphasized the significance of the event and underscored the importance of producing high-quality medicines domestically. H.E Jalali, stated that his efforts are dedicated to creating opportunities for domestic investors in the pharmaceutical sector, with the aim of achieving national self-sufficiency. He also emphasized that enhancing the quality of medicines and supporting locally produced pharmaceuticals are among his top priorities. Dr. Mirwais Elmy, the founder of Elmy Complex Pharma, said: Our goal is not only production, but ensuring quality in line with international standards, building public trust, and strengthening the health sector. Notably, a total investment of approximately $25 million has been made in the Elmy Complex Pharma manufacturing plant, of which around $3 million has been allocated specifically to the specialized injectable Cephalosporin segment. According to officials present at the inauguration, this project will provide the public with quality and affordable medicines, reduce the need for imports, and strengthen domestic production an important step toward the country's self-sufficiency, national production, and the development of the health sector.



## به ارزش ۹۰ هزار دالر امریکایی، یک تعداد وسایل طبی به شفاخانه ملی و تخصصی صحت طفل اندراگاندی وزارت صحت‌عامه، کمک شد.

این کمک از طرف بنیاد خیریه فاطمه صورت گرفت، که شامل ۳۰ پایه انکوبیتر (Incubators)، ۹ دستگاه وارمر (Warmer) ماشین، ۹ دستگاه فوتوتراپی(Phototherapy)ماشین و ۲ دستگاه فیتال داپلر (Fetal Doppler)ماشین می‌باشد.

داکتر وحدت الکوزی رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت عامه، از حاجی فرید، مؤسس بنیاد خیریه فاطمه و سایر مسوولان این نهاد به‌خاطر این کمک ها اظهار قدردانی نموده و این وسایل را در راستای حفاظت و تداوی صحی نوزادان بسیار مهم دانست.

## د عامې روغتیا وزارت اندراګاندي د ماشومانو درملنې ملي او تخصصي روغتون سره د ۹۰۰۰۰ ډالرو په ارزښت د یو شمیر طبي وسایلو مرسته وشوه

یاده مرسته د فاطمه خیریه بنسټ له لوري وشوه، چې په کې ۳۰ پايې انکيوبيټرونه(Incubators)،۹ عدده وارمر(Warmer) ماشینونه، ۹ عدده د فوټوتراپي (Phototherapy) ماشینونه او دوه عدده د فيټل ډوپلر(Fetal Doppler)ماشينونه شامل دي.

د عامې روغتیا وزارت د معالجوی طب لوی رئيس، ډاکتر وحدت الکوزي د يادې مرستې له امله د فاطمه خیریه بنسټ له مؤسس حاجي فريد او مسؤلینو څخه مننه وکړه او یاد ماشینونه يې د نويو زيږيدلو ماشومانو د روغتيا خونديتوب او درملنې لپاره مهم وبلل.

## The Ministry of Public Health Provides Medical Equipment Worth 90,000 Dollars to the Indira Gandi National and Specialized Children's Hospital

The donation was made by the Fatima Charity Foundation, in which the facilities include 30 Incubators, 9 Warmers, 9 Phototherapies and 2 Fetal dopplers. Dr. Wahdat Alokozay, Director of the Curative Medicine at the Ministry of Public Health, thanked Haji Farid, founder of the Fatima Charity Foundation, and the foundation's officials for their support, describing the donated equipment as vital for the health protection and treatment of newborns.



## د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي په مشرۍ د طبي متخصصينو شورا ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې چې د عامې روغتيا وزارت د اکمال تخصص لوی رئيس ډاکټر نثار احمد نيازي، د طبي متخصصينو شورا غړو، د کابل طبي پوهنتون رئيس، د طبي شورا او د اړوندو ادارو مسؤلينو شتون درلود ، ۳۰ تنه استادانو ته د علمي رتبو ورکولو، د بهرنيو ډاکټرانو د فعاليتونو ارزونې او په ولايتونو کې د تخصص پروګرام پر وړاندې د شته ستونزو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې. د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي د علمي رتبو ورکولو برخه کې پر شفافيت او دقت ټينګار وکړ او اړوندو مسؤلينو ته يې لازمې سپارښتنې وکړې، همدارنګه ښاغلي مرستيال زياته کړه ، په کومو ولايتونو کې چې د تخصص پروګرام پر وړاندې ستونزې موجودې وي، بايد وڅېړل شي او ورته لازمه رسېدنه وشي. همدارنګه، د عامې روغتيا وزارت د اکمال تخصص لوی رئيس، ډاکټر نثار احمد نيازي د طبي متخصصينو شورا د وظايفو لايحه ګډونوالو ته تشريح کړه او د يادې لايحې د لا ښه تطبيق لپاره يې ګډې هڅې اړينې وبللې. د يادونې وړ ده، چې پر يادو موضوعاتو به په راتلونکې ناسته کې مهمې پريکړې ترسره شي؛ ترڅو د طبي متخصصينو د علمي رتبو بهير شفاف، پياوړی او د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړ شي.

## نشست شورای متخصصین طبی تحت ریاست محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری وزارت صحت عامه، برگزار شد.

این نشست که با حضور داکتر نثار احمد نیازی، رئیس عمومی اکمال تخصص وزارت صحت عامه، اعضای شورای متخصصین طبی، رئیس پوهنتون طبی کابل، نماینده گان شورای طبی و مسوولان ادارات ذیربط برگزار گردید، در مورد اعطای رتب علمی به ۳۰ تن از استادان، ارزیابی فعالیت داکتران خارجی، و چالش‌های موجود در برابر برنامه‌های تخصصی در ولایات بحث و تبادل نظر صورت گرفت. محترم قاری عبدالولی صدیقی، معین مالی و اداری این وزارت، بر شفافیت و دقت در روند اعطای رتب علمی تأکید کرده و به مسوولان مربوطه هدایات لازم داد. وی همچنان افزود: مشکلات موجود در برابر برنامه‌های تخصص در برخی ولایات باید بررسی و به شکل لازم به آنان رسیده گی شود. همچنان، داکتر نثار احمد نیازی، رئیس عمومی اکمال تخصص، لایحه وظایف شورای متخصصین طبی را برای اشتراک‌کننده گان توضیح داد و بر همکاری مشترک برای تطبیق بهتر آن تأکید کرد. قابل ذکر است که در نشست آینده، تصمیمات مهمی در مورد موضوعات مطرح‌شده اتخاذ خواهد شد تا روند اعطای رتب علمی برای متخصصین طبی شفاف‌تر و مؤثرتر شده و کیفیت خدمات صحی بهبود یابد.

## د خوست ولایت ملکي او تخصصي روغتون سره د ۱۰۶ زره ډالرو په ارزښت د اړینو طبي تجهیزاتو مرسته وشوه.

یاده مرسته چې د (ICRC) نړیوالې مؤسسې له لوري وشوه، په کې بېلا بېل طبي تجهیزات (ډاپلر التراساونډ، ډیجیټل اکسری ماشین او ځینې نور اړین تجهیزات) شامل دي، چې په مرسته به یې د ملکي روغتون تشخیصیه برخې خدمات لا پیاوړي شي.




## به ارزش ۱۰۶ هزار دالر امریکایی یک تعداد تجهیزات ضروری طبی به شفاخانه تخصصی و ملکی ولایت خوست کمک شد.

این کمک که از طرف مؤسسه بین‌المللی صلیب سرخ (ICRC) صورت گرفت، شامل تجهیزات مختلف طبی از جمله(Doppler Ultrasound) داپلر التراسوند دستگاه دیجیتال اکسری (Digital X-ray Machine) و برخی تجهیزات ضروری دیگر می‌باشد که به وسیله آن خدمات بخش تشخیصیه شفاخانه ملکی ولایت خوست بیش از پیش تقویت خواهد شد.

## Essential Medical Equipment Valued at 106,000 Dollars Provided to Khost Province's National and Specialized Hospital.

The aid, provided by the International Committee of the Red Cross (ICRC), includes various medical equipment such as a Doppler ultrasound, a digital X-ray machine, and other essential devices which will further enhance the diagnostic services of the National Hospital.

## د اکمال تخصص لوی ریاست د تخنیکي کمېټې غونډه تر سره شوه.



دا تخنیکي کمېټه د عامې روغتیا وزارت د محترم مقام له حکم سره سم جوړه شوې ده، چې یاده غونډه یې د ټرینر او ټریني ډاکټرانو د چارو په برخه کې د اسانتیا او حل لارې موندلو لپاره ترسره کړه، کوم چې د اکمال تخصص لوی ریاست اړوند کېږي. په دې ناسته کې د تخصصي روغتونونو استادانو، چې د اکمال تخصص لوی ریاست د اکاډمیکو چارو د انسجام ریاست د تخنیکي کمېټې غړیتوب لري، ګډون کړی و، چې په کې د عارض شویو ډاکټرانو اړوند په بېلا بېلو موضوعاتو بحث تر سره او د ننګونو د حل په برخه کې له قانون سره سم اړینې پرېکړې وشوې، ترڅو په اړه یې د وزارت د محترم مقام له منظورۍ وروسته اړین اقدامات تر سره شي.

## د پروان ولایتي تخصصي، شاه امان الله غازي او پنجشیر ایمرجنسي روغتونونو کې د اکمال تخصص برنامې له روان بهیر څخه نظارت تر سره شو.

د عامې روغتیا وزارت د اکمال تخصص لوی ریاست تر چتر لاندې د عملیاتي ریاست څارنې ټیم د پروان ولایتي تخصصي، شاه امان الله غازي او پنجشیر ایمرجنسي روغتونونو ته استول شوي؛ ترڅو د ټرینر متخصصینو او ټریني ډاکټرانو ستونزې او د اکمال تخصص برنامې بهیر کې موجوده تشې په نښه او ورته د حل لارې پیدا کړي. یاد ټیم د پورته ذکر شویو تخصصي روغتونونو له مسؤلینو، ټرېننگ مسؤل، د ډیپارټمنټونو له مسؤلینو، ټرینر متخصصینو او ټریني ډاکټرانو سره د اکمال تخصص برنامې د معیاري کولو او د اکمال تخصص لوی ریاست موخو ته د رسېدو په اړه هر اړخیز بحث او خبرې وکړې. سربېره پردې، د اکمال تخصص لوی ریاست نظارتي ټیم د نصاب پلي کولو باندې خبرې وکړې، چې له ډلې یې ، Logbook، bedside teaching Morning report، Morning visit،Case presentation باندې ټینګار وشو؛ تر څو په هر اړخیز ډول اجراات تر سره شي.
د یادونې وړ ده، چې دا نظارتي لړۍ به څلور ورځې دوام وکړي او دا پروسه د مرکز او ولایتونو په ټولو تخصصي روغتونونو کې هم د پلي کېدو وړ ده.



## از پیشبرد برنامه اکمال تخصص، در شفاخانه های ولایتی تخصصی پروان، شاه امان الله غازی و ایمرجنسی پنجشیر نظارت صورت گرفت.

تیم نظارت ریاست عملیاتی ریاست عمومی اکمال تخصص، جهت دریافت مشکلات ترینرمتخصصین، داکتران ترینی و خلاهای برنامه تریننگ اکمال تخصص، به شفاخانه های تخصصی پروان، شاه امان الله غازی و ایمرجنسی پنجشیر رسماً اعزام گردیدند. این تیم در مورد معیاری سازی برنامه اکمال تخصص، با مسوولان ریاست شفاخانه های تخصصی فوق الذکر، مسؤل تریننگ، شف های دیپارتمنت، ترینر متخصصین و داکتران ترینی نشستی دایر نموده و پیرامون معیاری نمودن برنامه اکمال تخصص و رسیدن به اهداف ریاست عمومی اکمال تخصص همه جانبه صحبت نمودند. علاوه بر آن این تیم، در مورد تطبیق کریکولوم از قبیل (Logbook،bedside teaching ،Morning report، Morning visit،Case presentation) تاکید نمودند تا به شکل همه جانبه اجراآت صورت گیرد. قابل یاد آوری است، که این برنامه برای چهار روز ادامه خواهند داشت و این روند در تمام شفاخانه های تخصصی مرکز و ولایات نیز قابل تطبیق می باشد.

## د لوګر ولایت د عامې روغتیا ریاست په تالار کې د منظور شوي پلان پر بنسټ د نوي شوي ملي نظارتي چک لېست د څارنې او ارزونې درې ورځنۍ ټرېننګ ترسره شو.

یاد ټرېننګ د څارنې او پلټنې او روغتیايي قوانینو د تطبیق او ارزونې مسؤلینو ته د نوي شوي ملي نظارتي چک لېست د پېژندنې او تطبیق په موخه ترسره شو، چې پر مهال يې د عامې روغتیا وزارت د نظارت رئیس ډاکټر کریم الله حلیمي، د لوګر د عامې روغتیا رئیس حافظ سعیدالرحمن قادري او يو شمېر نورو مسؤلینو هم ګډون درلود. د عامې روغتیا وزارت د نظارت رئیس ملي نظارتي چک لېست د ګډونوالو لپاره ګټور او ارزښتمن وباله او د لازم تطبیق په موخه يې ورته اړینې سپارښتنې وکړې؛ ترڅو خلکو ته باکیفیته روغتیايي خدمتونه وړاندې شي.




## ترینینگ سه‌روزه نظارت و ارزیابی چک‌لیست ملی تجدید شده، بر اساس پلان منظور شده، در تالار ریاست صحت‌عامه ولایت لوگر برگزار گردید.

این ترینینگ به هدف معرفی و تطبیق چک‌لیست ملی تجدیدشده برای مسوولان نظارت، تفتیش و ارزیابی، تطبیق قوانین صحی برگزار شد، که در جریان آن داکتر کریم‌الله حلیمی رئیس نظارت وزارت صحت‌عامه، حافظ سعیدالرحمن قادری، رئیس صحت‌عامه ولایت لوگر، و تعدادی از مسوولان دیگر نیز اشتراک داشتند. رئیس نظارت وزارت صحت‌عامه، چک‌لیست ملی نظارتی را برای شرکت‌کننده‌گان مفید و ارزشمند دانست و به خاطر تطبیق لازم، هدایات ضروری را به آنان داد تا خدمات صحی باکیفیت به مردم ارائه گردد.

## A Three-Day Training on Monitoring and Evaluation of the Revised National Supervisory Checklist was Conducted in the Hall of the Logar Provincial Public Health Directorate, Based on the Approved Plan.

The training was held to introduce and implement the updated national monitoring checklist for officials responsible for supervision, inspection, and the enforcement and evaluation of health laws. Dr. Karimullah Halimi, Director of Monitoring at the Ministry of Public Health; Hafiz Saeedur Rahman Qaderi, Director of Public Health of Logar, along with several other officials, also took part in the program. The Director of Monitoring at the Ministry of Public Health described the National Supervision Checklist as useful and valuable for the participants and offered necessary recommendations for its implementation to help ensure the provision of quality health services to the people.





## د عامې روغتيا وزارت د چاپيريال روغتيا رياست له لوري د کابل ۱۰ مه او ۱۵ مه ناحيه کې په يو شمېر مکتبونو او وړکتونونو کې د کولرا ناروغۍ د مخنيوي په موخه د عامه پوهاوي کمپاين ترسره شو.

په دغه کمپاين کې ۴۰۰۰ تنه ښوونکو او زده‌کوونکو ته د کولرا ناروغۍ د مخنيوي په موخه روغتيايي لارښووني او معلومات ورکړل شول او د روغتيايي لارښوونو او معلوماتو ۲۵۰۰ تبليغاتي پاڼې د مکتبونو او وړکتونونو په مناسبو ځايونو کې نصب او تشريح شوې؛ څو د يادې ناروغۍ د خپرېدو مخه ونيول شي او د زده‌کوونکو روغتيا خوندي شي. دغه راز، د چاپيريال روغتيا رياست مسؤلينو له لوري په بيلابيلو مکتبونو او وړکتونونو کې ښوونکو او کارکوونکو ته د حفظ الصحي مراعتولو او روغتيايي کارتونو اخيستلو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو زده‌کوونکو ته د يو خوندي تعليمي چاپيريال زمينه برابره شي.

## ریاست صحت محیطی وزارت صحت‌عامه، در نواحی دهم و پانزدهم شهر کابل، کمپاین آگاهی‌دهی عامه را در شماری از مکاتب و کودکستان‌ها به منظور جلوگیری از بیماری کولرا راه‌اندازی کرد.

در جریان این کمپاین، به ۴۰۰۰ تن از معلمان و شاگردان معلومات و رهنمودهای صحی در مورد جلوگیری از بیماری کولرا توزیع شد. همچنان ۲۵۰۰ برگه تبلیغاتی با پیام‌های صحی، در مکان‌های مناسب مکاتب و کودکستان‌ها نصب و توضیح داده شد تا از گسترش این بیماری جلوگیری و صحت شاگردان حفظ گردد. علاوه بر آن، مسوولان ریاست صحت محیطی، به معلمان و کارکنان مکاتب و کودکستان‌ها در زمینه مراعات نمودن اصول حفظ الصحه و گرفتن کارت صحی هدایات لازم را ارائه نمودند، تا محیط آموزشی سالم و مصئون برای شاگردان فراهم شود.

## The Ministry of Public Health through the Environmental Health Directorate, carried out public awareness campaign in several schools and childcare centers of Kabul's 10th and 15th districts to prevent Cholera.

In this campaign, 4,000 teachers and students received health guidelines and information on cholera prevention. Additionally, 2,500 information sheets were distributed and explained in appropriate locations within schools and childcare centers to help prevent the spread of the disease and safeguard student's health.

Additionally, officials from the Environmental Health Directorate provided necessary recommendations to teachers and staff in a various schools and childcare centers to maintain proper hygiene and obtain health cards, with the aim of ensuring a safe educational environment for students.



## از چهار باب فابریکه مواد غذایی و فروشگاه های مواد غذایی در ولایت های هرات و پکتیا نظارت صورت گرفت.

این نظارت که از طرف مدیریت های عمومی بازرسی از تأسیسات تولیدی و توریدی مواد غذایی ریاست های صحت‌عامه این ولایات صورت گرفت، در نتیجه آن، ۹۵ رول سلیفون تقلبی، ۲ کیسه زانتان تاریخ گذشته و ۱۶۰۰ کیلو گرام اسانس مجهول و بدون لیبل واقع شهرک صنعتی ولایت هرات و ۲۰ کیلو گرام مواد غذایی در ولایت پکتیا جمع‌آوری شده و به خاطر از بین بردن به گدام های مرکزی انتقال داده شدند.

## نیمروز کې له یو شمېر درملتونونو څخه نظارت ترسره شوه.

دغه نظارت د نیمروز ولایت د عامې روغتیا ریاست د روغتیایي قوانینو د تطبیق او ارزونې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې یې یو درملتون د قانوني جواز نه درلودلو له امله وتړل شو او یو اندازه له نېټې تېر درمل راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي گودام ته ولېږدول شول. دغه راز، د یاد نظارت په ترڅ کې اړوندو مسؤلینو ته د روغتیایي قوانینو مراعتولو او د تطبیق په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د درملتونونو فعالیت د روغتیایي قوانینو او اصولو سره سم ترسره شي.




## Inspections Carried out at Several Pharmacies in Nimroz Province.

As a result of the inspection conducted by the Monitoring and Inspection Department of the Public Health Directorate of Nimroz province, one pharmacy was closed due to the lack of legal license, and a quantity of expired medicines was collected and sent to the central warehouse for disposal. Additionally, during this inspection, the relevant officials were instructed to improve quality and comply with health regulations, ensuring that the activities of pharmacies are conducted in line with health laws and guidelines.

## از یک تعداد دواخانه ها در ولایت نیمروز نظارت صورت گرفت.

این نظارت از طرف مسوولان تطبیق از قوانین صحی ریاست صحت‌عامه این ولایت صورت گرفت، که در نتیجه آن یک باب دواخانه به دلیل نداشتن جواز قانونی مسدود گردید و مقداری ادویه های تاریخ گذشته نیز جمع‌اوری شده و به خاطر از بین بردن به گدام مرکزی انتقال داده شد. همچنان، در جریان این نظارت به مسوولان مربوطه در مورد رعایت و تطبیق قوانین صحی، هدایات لازم داد ه شد، تا فعالیت دواخانه‌ها مطابق به قوانین و اصول صحی صورت گیرد.



## د عامې روغتيا وزارت له لوري د ناروغانو د خونديتوب او پاملرنې په اړه د عامه پوهاوي غونډه ترسره شوه.

په همدې موخه جوړ شوي مراسم چې د"هر نوي زيږېدلي او هر ماشوم لپاره خوندي پاملرنه" تر شعار لاندې تر سره شول؛ په کې د عامې روغتيا وزارت مرکزي رئيسانو، د مرکزي روغتونونو رئيسانو، روغتيا نړيوال سازمان استازو او روغتيايي کارکونکو ګډون کړی و. په يادو مراسمو کې د عامې روغتيا وزارت د معالجوي طب لوی رئيس ډاکټر وحدت الکوزي په روغتونونو کې د ناروغانو خونديتوب اړين وباله او دا يې د ناروغانو په ځانګړې توګه د نويو زيږېدلو ماشومانو د مړينې کچې د ټيټوالي لپاره مهم اقدام ياد کړ. د معالجوي طب لوی رئيس دغه راز په دې برخه کې د عامې روغتيا وزارت ترسره کړي فعاليتونو بيان او د راتلونکو پلانونو يادونه يې وکړه. په دغو مراسمو کې د عامې روغتيا وزارت د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئيس ډاکټر آمين الله مومند له روغتيايي کارکوونکو غوښتنه وکړه، چې د ناروغانو خونديتوب ته پاملرنه زياته کړي، څو د درملنې معيارات نور هم لوړ شي. تر يادو مراسمو وروسته مسئولينو د ملالۍ روغتون د نويو زيږېدلو ناروغانو له ځانګې څخه ليدنه ترسره او روغتيايي کارکونکو ته يې د ناروغانو خونديتوب اړوند لازمي سپارښتنې ترسره کړې.

## وزارت صحت‌عامه، نشست آگاهی‌دهی عامه را در رابطه به مصوونیت و مراقبت از بیماران برگزار کرد.

این مراسم تحت شعار "مراقبت مصوون برای هر نوزاد و هر طفل" برگزار گردید، که در آن رئیسان مرکزی وزارت صحت‌عامه، رئیسان شفاخانه‌های مرکزی، نماینده‌گان سازمان صحی جهان و کارمندان صحی اشتراک داشتند . در این مراسم، داکتر وحدت الکوزی، رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت‌عامه، بر اهمیت مصوونیت بیماران در شفاخانه‌ها تأکید نمود و آن را یک گام مهم در کاهش میزان مرگ‌ومیر بیماران، به‌ویژه نوزادان، عنوان کرد. همچنان رئیس عمومی طب معالجوی، فعالیت‌های اجرا شده وزارت صحت‌عامه را در این بخش و پلان‌های آینده را نیز تشریح کرد. در جریان این مراسم، داکتر آمین‌الله مومند، رئیس شفاخانه‌های تخصصی و ثالثی وزارت صحت‌عامه، از کارمندان صحی خواست تا توجه بیشتری به مصوونیت بیماران داشته باشند تا معیارهای تداوی بیش از پیش ارتقاء یابد. در ختم این مراسم، مسوولان از بخش نوزادان ناروغان شفاخانه ملالی بازدید کرده و به کارمندان صحی هدایات لازم در مورد تأمین مصوونیت بیماران دادند.

## The Ministry of Public Health Organized a Public Awareness Ceremony on Patient Safety and Care.

The ceremony, held under the slogan “Safe Care for Every Newborn and Child,” was attended by central directors of the Ministry of Public Health, directors of central hospitals, representatives from the World Health Organization, and health workers. At the ceremony, Dr. Wahdat Alokozay, Director of Curative Medicine at the Ministry of Public Health, emphasized that patient safety in hospitals is essential and called it a key measure to reduce mortality, particularly among newborns. The Director General of Curative Medicine also outlined the activities undertaken by the Ministry in this area and highlighted future plans. Dr. Aminullah Momand, Director of Specialized and Tertiary Hospitals at the Ministry of Public Health, urged health workers to prioritize patient safety to further improve treatment standards. After the ceremony, officials visited the newborn ward of Malalai Hospital and provided healthcare workers with necessary recommendations on patient safety.

## د سره صلیب نړیوالی مؤسسې (ICRC) له لوري د پکتیا سیمه ییز روغتون سره د یو شمېر طبي او غیر طبي تجهیزاتو مرسته شوه.

د پکتیا د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر معراج گل عادل وویل: ( دا مرسته د عامې روغتیا ریاست د غوښتنې او د سیمه روغتون د اړتیا پر اساس د سره صلیب نړیوالې ټولنې له لوري شوې، چې نن ورځ یې د تسلیمۍ شاهدان یو). په دې تجهیزاتو کې د عملیاتونو مجهز میز ، Patient Manitor ،(OT Table) جراحي سیټونه او د بېړنیو پاملرنو وسایل شامل دي، چې ارزښت یې سل زره ډالر کېږي او د روغتیایي خدمتونو په پیاوړتیا کې اساسي رول لري.

## موسسه بین المللی صلیب سرخ (ICRC) به شفاخانه حوزوی پکتیا، یک تعداد تجهیزات طبی و غیر طبی رابا حضور یک تعداد از مقامات این ولایت مساعدت نمود.

داکتر معراج گل عادل ریس صحت عامه ولایت پکتیاگفت:« که این کمک موسسه بین المللی صلیب سرخ، به اساس تقاضای ریاست صحت عامه و ضرورت شفاخانه حوزوی این ولایت که مدتی قبل همرای تیم تخنیکی ریاست صحت عامه و نماینده گان این موسسه نظر به ضرورت شفاخانه یاداشت شد، مساعدت شده است.که امروز شاهد تسلیم گیری آن می باشیم.» این تجهیزات شامل میزمعیاری عملیات ,(OT Table) علائم حیاتی مریض ,(Patient Manitor) سیت های جراحی و وسایل مراقبت‌های عاجل می باشد که ارزش آن یک لک دالر می باشد و در بهبود کیفیت خدمات صحی نقش مهمی دارد.






## پکتیا کې د خوراکي توکو له یو شمېر پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو.

دغه نظارت د پکتیا ولایت د عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې په پایله کې یې ۳٦ قلمه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي گودام ته ولېږدول شول. دغه راز، د یاد نظارت په ترڅ کې د پلورنځیو مسؤلینو ته د روغتیایي قوانینو مراعتولو په موخه لازمي سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د بې کیفیته توکو د پلور مخه ونیول شي او د خلکو روغتیا خوندي شي.

## از یک تعداد فروشگاه‌های مواد غذایی در ولایت پکتیا نظارت صورت گرفت.

این نظارت که توسط مسوولان آمریت نظارت و بررسی ریاست صحت عامه پکتیا صورت گرفت، در نتیجه آن، ۳٦ قلم مواد غذایی بی کیفیت و تاریخ گذشته جمع آوری و به گدام مرکزی به خاطر از بین بردن انتقال داده شد. همچنان، در جریان این نظارت به مسوولان فروشگاه‌ها هدایات لازم در مورد رعایت قوانین صحی داده شد، تا از فروش مواد بی‌کیفیت جلوگیری شده و صحت مردم محفوظ بماند.

## تېر یو کال کې د سمنگان ولایتي روغتون کې شاوخوا (۳۲۰۵) وړیا جراحي عملیاتونه ترسره شوي دي.

د یادو جراحي عملیاتونو له ډلې (۱٦۲۸) ستر او (۱۵۷۷) کوچني جراحي عملیاتونه دي، چې د افغان مجربو او متخصصو ډاکټرانو پر مټ په وړیا او بریالی توگه ترسره شوي دي.
د جراحي عملیاتونو ترڅنگ په دغه روغتون کې (۱٦۰۸۵۲) ناروغانو ته په وړیا توگه سراپا (OPD) او (۱۸۱۷۱) ناروغانو ته (IPD) داخل بستر خدمات وړاندې شوي دي.



ستر جراحي عملیاتونه

۱٦۲۸



OPD خدمتونه

۱٦۰۸۵۲



کوچني جراحي عملیاتونه

۱۵۷۷



IPD خدمتونه

۱۸۱۷۱



### د ننگرهار ولایت جلال اباد ښار کې له یو شمېر روغتیایي مرکزونو څخه نظارت ترسره شو.

دغه نظارت د ننگرهار عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې یې یو د غاښونو کلینیک او درې لابراتوارونه د قانوني اسنادو نه درلودلو له امله وتړل شول.

### از یک تعداد مراکز صحی در شهر جلال آباد ولایت ننگرهار نظارت صورت گرفت.

این نظارت از طرف مسوولان نظارت و بازرسی ریاست صحت‌عامه این ولایت صورت گرفت، که در نتیجه آن یک باب کلینیک دندان و سه لابراتوار به دلیل نداشتن اسناد قانونی صحی مسدود گردیدند.